# اولسي شاعر فدا مطهر

محمد جاوېد خليل، نصيب الله سيماب

**Abstract**

Folk poetry play a significant role in Pashto literature. It reflects the culture and way of life of Pashtoon. Fida Motahir is one of the most important Folk Poet. In this research paper the poetry of Fida Motahir have been highlighted.

د يو ژبې او د هغې د ادبياتو په پرمختګ کښې د هغې ژبې شاعران او اديبان په زړۀ پورې او يوه غټه برخه لري ـ د شاعرانو او ليکوالو په دې ډله کښې اولسي شاعرانو ته يو بيل او ځانګړے مقام حاصل دے ـ دا ځکه چې د خپلې ژبې او په تېره د غنائي فولکلور خدمت خولۀ په خولۀ يو نه بل ته او بل نه بل ته ورسپاري او داسې دوي دا خدمت لکه د زنځير د کړئ يو بل سره پيلي او تسلسل ئې جاري او ساري ساتي ـ د شاعرئ داملکه لوئے الله لکه چې دوي ته په دې غرض ورکړي وي چې د خپلې ژبې د خدمت دا بوج هم د دوي په وولو اوچت کړي او خپل خوارۀ ادبيات پرې دعوامو خوږو خواهشونو بام ته اورسوي ـ په ځانګړي ډول اولسي شاعري يا بيا اولسي سندرې په دوؤ برخو وېشلے کيږي ـ يوه برخه هغه دي چې شاعر ئې معلوم نۀ وي او د ټول اولس شريک ميراث ګرځيدلي وي لکه ټپې ، مصرعه يزې سندرې ، د ماشومانو سندرې ، د مياندو سندرې ، انګۍ وغيره ـ ولې بعضې سندرې داسې وي چې شاعر ئې معلوم وي ـ داسې سندرو ته مونږ خاصې يا معلومې سندرې وئيلے شو ـ لکه لوبې ، چاربيتې يا بيا داسې مصرعه يزې سندرې هم چې شاعرانو پکښې خپل تخلص استعمال کړے وي ـ دا سندرې هم د دوئي نوم سره خولۀ په خولۀ يوبل ته منتقل کيږي ـ چې د دوئي نوم هم ژوندے ساتي او لوستونکي ، اوريدونکي ترې خوند او مزه هم اخلي ـ راقم الحروف خپله د دا قسمه عوامي شاعرانو پحقله په يو ځائے کښې ليکي :-

اسلئے ہم ان عوامی شاعروں کے شکر گذار ہیں ـ اگر یہ عوامی شاعر نہ ہوتے او سینہ بہ سینہ یہ داستانیں یہ شاعری ہم تک نہ پہنچاتے تو نہ جانیں لمبے عصر کے

لمبی اور گہرے قبر میں کب کے دفن ہوتے اور ہم اس خوبصورت اور رومانوی
صنف اور شاعری سے محروم رہتے [1]

ترجمه :- دې دپاره مونږ د عوامي شاعرانو شکر گذار يُو ـ که چرې دوبي نهٔ وے او سينه په سينه ئې دا داستانونه دا شاعري مونږ ته نهٔ وے رارسولے نو خدائے خبر چې دا به د اوږدې مودې په ژور قبر کښې د کله نه ښښې پاتې وے او مونږ به ددې ښائسته عاشقانه صنف او شاعرۍ نه محرومه پاتې شوے وے ـ

په فولکلوري يا عوامي شاعرۍ کښې خوند او مزه ډېره وي ـ دا ځکه چې دا نېغ په نېغه د يو شاعر د زړهٔ اواز وي چې بغېر د څهٔ گډون نه د هغهٔ د زړهٔ نه رابرسېره کېږي او د اورېدونکو يا لوستونکو په زړهٔ ورننه وځي ـ بيا ددې خوارهٔ هغه وخت نور هم سېوا شي کله چې ددې د خالق خټه د باړې په خوږو اوبو اغږلې شوې وي ـ بنده چې خپله خوږ وي نو دهغهٔ دغه خوږلت د هغهٔ په هر لفظ ، هره خبره او هره وينا کښې پراتهٔ وي ـ دغه لفظونه چې کله د وزن بحر په خوږو خوارهٔ کړے شي ، نو خوند او مزه ئې نوره هم سېوا شي ـ بيا دغې خوږو له نور خوارهٔ ورکولو په غرض چې يو شاعر خپل ټول کړهٔ وړهٔ او عمر فدا کړي نو ضروري خبره ده چې ژبه به ئې هم پاکه ، سپېڅلې او مطهره وي او په ډېرو خوشبيو معطره هم ـ د خوږې شاعرۍ داملکه د نورو ډېرو شاعرانو سره سره زمونږ د خليلو د سيمې د يو ډېر مشهور شاعر چې هم په پښتو او پښتنو فدا ؤ او هم په پښتو شاعرۍ ـ دا ښاغلے د خليلو په سيمه کوزه پشتخره کښې د شلمې صدۍ د دوېمې لسيزې په سر يعنې په کال ١٩١١عيسوي کښې پيدا شوے ؤ ـ خوږې سندرې ، لوبې ، غزلې ، بدلې ئې په خوند خوند وئيلي دي ـ په شاعرۍ کښې ئې وفا ، مينه او غم ښکاره علامتونه دي ـ ښکاري داسې چې خپلې خوږې مينې ډېر دردولے دے ځکه چې په ډېرو غزلونو کښې ئې د خپل جانان نه د بې وفايۍ گيله ښکاره کړې ده ـ او د بې وفا لفظ ئې تقريباً په هر يو غزل کښې راوړلے دے ـ لکه چې وائي :

په ژړا به درته وايم په ژړا به دراته وايم
چې يو ځل رامخامخ شوې بې وفا به درته وايم
درته خيرې به گرېوان کړم په مخ سر به بيا راکېږدم
په سلگوسلگو هم داسې تګ اشنا به درته وايم
تا مې اوسول ارمانونه باقي ژوند دې راته اور کړو
خوشحالي دې زما لوټ کړه دا صفا به درته وايم
تا خو ډېرې څو څو ځله د وفا کړې وعدې وي
بې وفا وې ، بې وفا وې زهٔ هم دا به درته وايم

ولې باوجود ددې بې وفايۍ ئې د خپلې خوږې مينې ټولې بلاګانې په سر اخستي دي ـ خپلې خوږې مينې نه ئې ځان قربان کړے دے ځان له ئې د مينې يو بېل کور آباد کړے دے ولې بيا هم خپل جانان نه دا تپوس کوي چې ددې دومره قربانو باوجود څۀ ګيله ، غم خفګان خو به دې ددې خوږې مينې په کور کښې نۀ وي لکه چې وائي :

بلاګانې کۀ دې اخلم خفه کېږي خو به نه
کۀ زۀ ستا نه ځان قربان کړم حېرانېږې خو به نه
زما ستا سره قسم دے زړۀ کښې پټ ډېر محبت دے
کۀ زۀ اووايم چې ستا يم نو قهرېږې خو به نه
زۀ به تاله په خپل زړۀ کښې يو د مينې کور اباد کړم
چې يواځې پکښې اوسې نو تنګېږې خو به نه
ستا د ډېرو خوږو سترګو زۀ به ډېر خاطر کؤمه
بې وفا د چا پشانې تۀ يادېږې خو به نه
اُف د عشق په دې جهان کښې طوفانونه زلزلې دي
کۀ څۀ ډېرې سختې راشي نو ويرېږې خو به نه
زما نه کښې وفا نشته مطهره فدا واوره
که چا لوټ کړې په اعتبار کښې نو ژړېږې خو به نه

د غزلونو نه علاوه فدامطهر نظمونه ، بدلې ، چاربېتې ، نيمکۍ ، لوبې ، سندرې ، مصرعې ، مرثيې ، رباعيانې ليکلي دي ـ چې د خپلې ژبې د ادب پنګه ئې پرې هم ښائسته کړې او هم درنه کړې ده ـ دغې خوږې وېنا ته چې کله احمد خان ، ګلناربېګم ، فضل ربي ، هدايت الله او نورو سندرغاړو د خپل اواز خواږۀ اوبخښل نو دغه خوږو سندرو نه سندريز محفلونه جوړ شول نو لږ وخت دپاره ئې اورېدونکي د ستړي ژوند نه يو طرفته د خيال په زانګو کښې د خوند داسې جوتې ورکړې لکه چې يو ماشوم ته خپله مور وائي :

الله هو شه الله هو
داسې اودۀ شه لکه ګل د نندارو
زما نيازبينه ګله للو للو

عمر چې کله تېرېږي نو د بنده سوچ او فکر او احساسات هم پخېږي ـ فدا مطهر هم چې کله د عمر دغې حصې ته رسېدلے دے نو احساس ورته شوے دے او بيا دا هر څۀ ورته هېڅ او بې معنې ثابت شوي دي ـ په مجاز کښې ورته د حقيقت رڼا سرېکه وهلې ده او بيائې دغه مينه صرف د لوئے الله او د رسول پاک ص سره هم ښکاره کړې او هم پخه کړې ده ـ نۀ

يوائې خپله د مينې دې بې بها سمندر ته ورګډ شوے دے بلکې خپل پښتون قام او خپلو بچو ته ئې هم نصيحت کړے دے ـ

عاقله راشه څۀ نيکي اوکړه د ځانه سره
د دنيا څو ورځې ژوندون دے د ارمانه سره
د خدائے رسول ص حکم ته نن په اخلاص ملا اوتړه
يو ورځ به ستاکېږي پيشي د پاک سبحانه سره
درته دا مې نصيحت دے ياد لرئ
هېر ئې نۀ کړئ وصيت دے ياد لرئ
د دنيا زندګي تېره په نيکی کړئ
د نېکانو ځائے جنت دے ياد لرئ

دغسې زمونږ دا خوږ ژبے شاعر د شپېتو کالو په عمر کښې په کال ١٩٧١ عيسوي کښې د زړۀ د دورې "Heart attack" په وجه مونږ نه جدا شو ـ ولې يادونه به ئې د پښتون وګړي سره ددۀ ددغه خوږو نغمو په صورت کښې تل عمر باقي وي ـ لوئے الله دې اتۀ واړه جنتونه نصيب کړي او ددۀ ډاکټر زوئے ډاکټر عنايت الرحمان له دې دا طاقت ، همت ، توفيق او حوصله ورکړي چې لکه د خپل پلار د ټولو پښتنو خدمت د دارو درملو او علاج په صورت کښې اوکړي او دغسې د خپل خدائے بخښلي پلار ارمان پوره کړي چې د هغۀ روح ته پرې خوشحالي اورسي ـ
وماتوفيقی الا باالله

# حوالې

[١] پشتو کی منظوم داستانیں، صفحہ ١١

[٢] مطهر فدا، د اور لمبې، اسلامي کتب خانه، قصه خواني بازار، پېښور ښار، ( کال نۀ لري )

[٣] مطهر فدا، سروټکې، اسلامي کتب خانه، قصه خواني بازار، پېښور ښار، ( کال نۀ لري )

[٤] خليل همېش، د قلم خاوندان، پښتو ادبي بورډ او پښتو اکېډيمي پېښور، ١٩٩٩ء

[٥] خليل محمد جاويد، پشتو کی منظوم داستانیں، پشتو اکیڈیمی پشاور یونیورسٹی بہ اشتراک لوک ورثہ اسلام آباد، ٢٠٠٨عيسوي

[٦] منګل علي محمد، شرنګ په اولسي ادب کښې، شعيب مطبعه، کابل افغانستان، ۱۳۹۰هـ ش، ۲۰۱۱عيسوي